مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۷/۱۴

# خوشعرونه، خویادونه

## خوکرلي تخمونه

## (د مطیع‌الله تراب لومړی‌تلین)

## لومړۍبرخه

**تراب د جګړو، مهاجرتونو، ناخوالو او رنګارنګ بدلونونو په توفانونو کې رالوی شوی، له دې تولو پېښو په ژوره توګه متأثر شوی، د خپلې‌تولنې دغه تولې پېښې یې د خپل ذهن په لابراتوار کې بیا ـ بیا مطالعه کړې دي، له خپلو تجربو سره یې یوځای کړې دي او پایله یې د شعر په قالب کې بېرته خپلې تولنې او مخاطبینو ته وړاندې کړې ده، د همدې له‌پاره د تراب شعر د خلکو او تولنې د عیني واقعیتونو او غوښتنو رښه هنداره ګڼلای شو. د تراب شاعرۍ د هغو خلکو پرذهن او فکر سخت ګوزار دی چې هغوی شعر یوازې د ګل و بلبل، زلف و کاکل، خط و خال خبرې ګڼي.**

(آصف بهاند)





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مذهب، پښتو او خاوره يې دوکړې ده لانورهم
پراتـه مـو پـه لستونو کې مــاران وي، لـکـه تـه

رودلـي يـې دا خـــاوره لـکـه اوبـــه لـکـه شـوده دي
خوبيـاهـم د دې خـاورې دوښمـنـان وي، لـکـه تـه

زمـا پـښـتـون ارمـان لـکـه لوټشوی جنګلک دی
کـابلـه زمـا بـه هـم داسې داستـان وي، لـکـه تـه

حجره به وي، ياران به وي، خو زه به پهکې نـه وم
سمسـور بـه دا تـمام افـغـانستـان وي، لــکـه تـه

نـه زمـا لـوپـټـه نـوې شـوه، نـه سـتـاځـادر تـرابـه
څوک مـاتـه لاجوابـه دي، څـوک تـا تـه، لـکـه تـه

*****

ټـول بـــه ويـــده نـــهوئ، يـــو څـــوک بـــه درکـي ويښ پـايي
وخـــت بـــه راځي چې زه بـــه نـــه يـــم او تـاريخ بـه وايي

څـنـګـه يې خـوري هـغـه خـوارهٔ ـ بـيا ورتـه زهـر دي شي
څوک چې دې ملک ته جنګ راوړي، د خدای په قهر دې شي

(مطيع‌الله تراب)

د افغانستان په اوسنيو ادبياتو کې د ملي فکر خاوند، ډېر مطرح او پېژندل شوی شاعر مطيع‌الله تراب د نه شتون يوکال پوره شو. د ښاغلی تراب د شاعرۍ ځپانده سين د ۲۰۲۵ ام کال د جولای پر ځوارلسمه ناڅاپه ودريد، خپله‌کورنی خپل‌هېوادوال او خپل‌مينه‌وال يې يوازې پرېښودل.

د تراب لوی ميراث له ده نه راپاتې شعرونه او په دې شعرونو کې د ده فکرونه دي. زه د ده شعرونو ته د ښني کروندې تخم وايم او ده په خپل خاص غږ او ادا سره، د خپلو شعرونو په کرونده کې د خپلو فکرونو دا تخمونه وکرل:

ـ د وطن پالنې تخم،

ـ د ملي‌احساس تخم،

ـ د وطن د مالکيت تخم،

ـ د نوې‌نسل د راويښولو او روزلو تخم...

د تراب کرلو تخمونو اوس هم سراوچت کړی دی، خو زه ډاډه يم چې دا کرونده به نوره هم شنه او سمسوره شي، پاخه فصلونه به يې همدا او راتلونکي نسلونه رېبي او دا فصلونه ځومره چې ورېبل شي، بيا، بيا به سرجګوي او نورو نسلونو ته به حاصل ورکوي.

زما له نظره تراب د خپلې زمانې يو بې‌ساری او هوښيار ښوونکی و چې د خلکو، په تېره نوې‌نسل په پوهولو او راويښولو کې يې داسې ښه وکړل او وويل چې بل چا نه ويلي دي او نه يې کړي دي. دومره اورېدونکي او ليدونکي چې تراب لري، بل کوم شاعر يې نه لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د بغاوت د روحي لرلو او په نوي نسل کې د وطن پالنې تخم، د ملي‌احساس تخم، د وطن د مالکیت د احساس تخم او د نوي‌نسل د راویښولو تخم د کرلو په وجه یې زه قهرمان ګڼم.

**تراب د جګړو، مهاجرتونو، ناخوالو او رنګارنګ بدلونونو په توفانونو کې رالوی شوی، له دې تولو پېښو په ژوره توګه متأثر شوی، د خپلې‌تولنې دغه تولې پېښې یې د خپل ذهن په لابراتوار کې بیا ـ بیا مطالعه کړې دي، له خپلو تجربو سره یې یوځای کړې دي او پایله یې د شعر په قالب کې بېرته خپلې تولنې او مخاطبینو ته وړاندې کړې ده، د همدې له‌پاره د تراب شعر د خلکو او تولنې د عینې واقعیتونو او غوښتنو رڼه هنداره ګڼلای شو. د تراب شاعري د هغو خلکو پرذهن او فکر سخت ګوزار دی چې هغوی شعر یوازې د ګل و بلبل، زلف و کاکل، خط و خال خبرې ګڼي.**

د تراب د شاعرۍ لویه برخه د خلکو، په تیره ځوانانو او نوي نسل د فکري بدلون له پاره داسې وقف شوې ده چې دوی ته انساني او ملي فکر ورلیږدوي او دا شاعري د نوي نسل فکري مسیر، په وطني او ملي روحیې سمبالول غواړي.

د بغاوت او سرکشۍ هغه روحیه چې د تراب په شاعرۍ کې ده، د لږو کسانو په شعر کې به یې ځرګ ولګېږي.

د افغانستان د بربادۍ په لاملونو کې یو لامل د خلکو د بېسوادۍ او ناپوهۍ په وجې؛ دا خلک نیابتي جګړو ته ورپورېوهل دي، تراب دا نیمګړتیا ښه درک کړې، نو ځکه یې د جګړې ضد چیغه اوچته کړې او په لوړغږ سره یې ویلي دي چې:

**ځنګه یې خوري هغه خواړه ـ بیا ورته زهر دي شي**
**ځوک چې دي ملک ته جنګ راوړي، د خدای په قهر دي شي**

تر دې مقالې مخکې، ما د مطیع‌الله تراب په باب دا لیکنې کړې دي:

**ـ مطیع‌الله تراب، د ډکو زړونو چیغه،**

**ـ د ځانګړي سبک خاوند شاعر مطیع‌الله تراب غمجنه مړینه،**

**ـ د خلکو راویښولو د سرلاري مطیع‌الله تراب میراث.**

د ده تر مړینې پخوا مې د ۲۰۱۹ ام کال په پیل کې چې کومه مقاله لیکلې وه، هلته ما ویلي وو چې:

«زه د تراب شعرونه او د تراب غږ د افغانستان د خلکو د ډکو زړونو چیغه ګڼم.»

یوکال مخکې مې چې د تراب پر مړینه څه لیکلي وو، د هغو خبرو په ترڅ کې ماد خپلو خبرو پیل داسې کړی و:

«د پښتو اوسنۍ شاعرۍ په بڼ کې د جګړې ځونامی له را پیدا رنګارنګ ناخوالو سره، سره یو نیم داسې ګل را وغوړېږي، چې ډېرې تشې ډکې کړي او پر خزان وهلي بڼ باندې داسې پسرلي راولي چې د شعر هر بند یې د بدن او فکر ناروغ او دردمن بندونه رغوي، مات زړونه کوشیروي، په یوه شعر کې د یو پند تاریخي کتاب حقایق د هنر په ژبه بیانوي او پر غمځپلو او ماتو زړونو باندې د خزان په موسم کې شین او ګلورین پسرلی غوړوي.

د دې شاعرانو د لومړي کتار سرلارۍ مطیع‌الله تراب نومېږي. دی خپل شعرونه په هر محفل او پر هر دریځ باندې د کاغذ له مخې نه، بلکې د خپلې حافظې له خزانې نه په یوه داسې ځانګړي انداز


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره وايي چې څه قوت يې د شعر په تورو او حقايقو کې او څه قوت د ده په ځانګړې ديکلمې او د ادا په طرز کې، چې دواړه سره يو ځای شي، نو اورېدونکی هکحيران کړي.»

زه د تراب صاحب په باب خپلې دا پاسنۍ مقالې او دا تر کار لاندې مقاله، د تراب پيژندنې د لوميړنيو پوړيو د پيل هڅې ګڼم، هيله مې دا ده چې د تراب نور مينه‌وال او قلموال هم په دې کار کې خپل رسالت ادا کړي اود تراب د ميراث په پيژندنه او معرفي کې برخه واخلي.

د پښتوشعر په اوسنيوشاعرانو کې تراب هغه اورژبی متهور شاعر دی چې د حقايقو د ويلو په وخت کې له هيڅچا نه‌دارېږي. د شعر دا بيلګه يې وګورئ:

**له ډېره درد او له پرسوبه په چاودلو راغله**
**د پرهرونو سره وښکې په زياتېدلو راغله**
**سود کاروبار شراب مباح په زنا ځوک سنګسارشو**
**چېرته يوغل افغانستان کې سرعام په دارشو**
**ښايي رشوت د اساسي قانون ماده وي کومه...**

د چور او تالان د رژيم په زړه کې، د ګنوخلکو په شتون کې د داسې حقايقو بيانول؛ داسې تهور غواړي چې ځوک خپل سر په لاس کې ونيسي او د بلا خولې ته ورروان وي، تراب د خپل شعري ژوند په موده کې ډېرځلې دا کار کړی دی، يوه بېلګه يې همدا شعر دی. د شعر بشپړمتن په لاندې ويديو کې کتلای شئ:
https://www.facebook.com/reel/1121037253600823

تراب پاسنی ياد تهور د نړيوالو کړيو هغو خلکو ته هم د شعر په ژبه ښودلی دی چې د اړتيا په وخت کې يې د پښتون جنګېدل شهکار او قهرماني ګڼله؛ خو کله چې پښتون د خپلو خلکو او وطن د ازادی چيغه د دوی په مقابل کې هم جګه کړه، بيا يې د وحشتګرد او دهشتګرد نومونه پرې کېښودل. دا لاندې شعر ولولئ او په لينک کې ويديو وګورئ:

پرون شهکار وم چې روسان مې له خيبر منع کړل
له سند او هند، له فارس خليج، له سمندر منع کړل
نن وحشتګر او دهشتګر او ترهګر يادېږم
نن ولې ـ ولې بعضې بعضو ته خطر يادېږم؟
https://www.facebook.com/reel/1329217351969690

تراب عاشقانه شاعري نه ده کړې، که يې يونيم شعر عاشقانه تعبير شوی وي يا عاشقانه وګڼل شي؛ هلته ليدل کېږي چې دی په مينه کې هم ځان خاورې ايرې او تراب ګڼي، په داسې ډول ترخپل معشوق پورې ځان وررسوي چې د هغې پر ښکلا نور هم يوه اضافه وشي. د تراب دا لاندې څو بيتونه زه د ده د عاشقانه شاعرۍ ډېره ښه بېلګه ګڼم:

ما ځان ايره کړ، تر رجرومې و سلايې درغلم
خو تا په سترګو پورې نه‌کړم، جوړ رانجه نه‌ومه
تا د پيشو غوندې رقيب کړ ځوکيدار د غوښې
زه به بيا هم درتلمه، بيا به‌هم خپه نه‌ومه؟
بيا په دار وخېژې سپوږمۍ، تندر دې بيا ونيسه
ته راختلې وې چې زه په هغه شپه نه‌ومه
https://www.facebook.com/reel/1320946103347890


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د مطیع‌الله تراب شاعري د اوسني وخت د سیاسي او ټولنیزو جبرونو له ناخوالو څخه د زوربېدلو ډکو زړونو هغه چیغه ده چې د استثنایي هنري کلماتو په قالب کې، ترخه تاریخي حقایق بیانوي او د یو ترخه ډک جام په ډول یې ټولو ته په مخ کې ږدي. دا چیغه په یوه ځانګړي هنري انداز سره یوازې د مطیع‌الله تراب له ستوني راوتلې او راوزي چې کېدای شي **«د زماني غږ»** ورته وویل شي.»

د مطیع‌الله تراب ترمړینې یوه اونۍ وروسته ما «د خلکو راویښولو د سرلاري مطیع‌الله تراب میراث» ترسرلیک لاندې یوه مقاله خپره‌کړه، هلته د ده د میراث په باب ما داسې لیکلي وو:

«اوس باید پر دې باندې نوره څېړنه هم وشي چې د تراب شخصیت، فکر او شعر د ده د مخاطبینو په راویښولو او د هغوی د فکر په بدلون کې څومره او څه ډول رول لوبولای دی او له تراب څخه راپاتې فکرونه او اثار به د تراب د همځولي نسل او راتلونکو نسلونو ته څه ډالۍ ولري.

څه چې د تراب شاعرۍ او شخصیت په ټولنه او خلکو کې وکړل او وروسته تر دې به یې هم وکړي، همدې ته زه د تراب میراث وایم او دا میراث باید وساتل شي، وپالل شي، درناوی یې وشي او عام کړای شي.»

د تراب تر مړینې وروسته دا ثابته شوه چې تراب د پښتو ادبیاتو په اوسنۍ شاعرۍ کې د داسې ځانګړي سبک او جلا لارې او فکر خاوند شاعر دی چې د افغانستان د خلکو د ډکو زړونو غږونه په کې انځور شوي دي.

تراب خرڅشوی او کرایي شاعر نه و، ده په ټول عمر کې له هیڅ شخص، مرجع یا پټې څخه د معاش یا تنخوا په نامه څه نه دي ترلاسه کړي. ده په رسا غږ ټولو ته داسې ویلي دي:

**ودې وایي، که په ښکاره څوک یې په غلا راکوي**
**طالب، حکومت، کوم سفارت ماله تنخوا راکوي؟**

**په ورځو ـ ورځو که نرۍ‌غوښنه یا غټه خورمه**
**ولله تراوسه د تناکو لاسو ګټه خورمه...**

تراب صاحب د اوسپنودوکان درلود، دې نرم‌مزاجه او د شاعرۍ اروح لرونکي انسان به د ژوندپرمخبیولو له پاره ټوله ورځ لاټول عمر اوسپنې په سوټک وهلې او سمولې به یې؛ سړی حیران شي چې ده څو د اوسپنو او سوټک د جنګولو د غږونو په چاپېریال کې خپل وخت تېراوه، نو دا د کلماتو سره پیلو هنر ده له کومه زده کړ. د لویو مفکرینو او هوښیارو مشرانو او رهبرانو ملې فکرونه څنګه د ده د ککرۍ په ګومبزه راپیدا او غږونه یې د ده په شعري او هنري تورو کې راوووتل او ده په خپل ځانګړي سبک او د ادا له طرز سره خپلو مخاطبینو ته وړاندې کول؟

د تراب د کلام اورېدونکي او مخاطبین بې‌شمېره وو، ده په خپلو شعرونو کې هغه معاملې بربنډولې چې په هغو کې سرونه د وړیو په تول خرڅ شوي دي. د تراب شعرونه د ټولنې هرې ډلې خلکو اورېدل.

د تراب په شان کې سرټیټی نه و، د ژوند پانګه په لاس کې نیسي، سر نه ټیټوي او خپله خبره کوي. دا یې یوه بېلګه ده:

ما ډاروۍمه، زه پوهېږم چې خطر به وخورم
ما سرخوړلي، سرخوړلی دی، څه سر به وخورم
دا سر په دومره اطاعت او دیپلوماسۍ نه‌ارزي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ژوند په دومره سرتیټۍ و چاپلوسۍ نه‌ارزي
https://www.facebook.com/reel/989376834072895

تراب یو زړه‌ور او د ځانګړي سبک خاوند شاعر و، په زړه ـ ذهن او سترګو کې یې ډار نه‌و، په خپلو شعرونو کې یې له عادي خلکو رانیولې بیا تر رئیسانو، وزیرانو، سفیرانو او حتی رئیس‌جمهورانو پورې هم نقدول، هرڅه یې ډانګ‌پیلي ویل او له چا یې سترګه نه‌سوځیده. تراب خلکو ته ځکه ګران او د منلو وړ و چې د هغوی دردونه او غوښتني یې په خپلو اشعارو کې بیانولې. د تراب له نظره شعر هغه څه ته ویل کېدل چې د یو دردمن زړه غږ په کې انځور کړای شي، په ټولنه کې شته نمګړتیاوې په نښه شي او حللارې ورته وښودل شي.

نوربیا

لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ